FMIC

د فرانسی طبی انستیتوت
د میندو او ماشومانو لپاره



# کلنی راپور ۲۰۲۴

# لړلیک


۰۲
۲۰۲۴ یوه ته کتنه

۰۴
لاسته راوړنې

۰۶
د بورډ د مشر پیغام

۰۷
د اجرائیه مشر پیغام

۰۸
مهم ټکي

۱۰
زمونږ ناروغان

۱۲
د بې وزلو سره مرسته

۱۵
انلاین روغتیایي چوپړتیاوې

۱۶
د ظرفیت لوړول

۲۰
د کیفیت پر لور

۲۳
زمونږ شریکان او ملاتړي

۲۴
د شمېرو له مخې


د انځورونو سرچینه:
علي حسني،
رومان نبی زاده،
ژاله هایری


HUVITZ

۵،۷۹۰

جراحي عمليات

۸،۹۲۸

آنلاین روغتیایی چوپړتیاوې

۶۱،۶۰۹

د ناروغانو د ملاتړ ترلاسه
کوونکي چې پکې ۹،۰۱۲
بستر ناروغان شامل دي

۴,۹ میلیونه امریکایي ډالر

د ناروغانو د ملاتړ لګښت





# ۲۰۲۴ ته یوه کتنه

**۱۳,٤۲۱**

بستر شوي ناروغان

**۲۲۲،۸۶۵**

کلينيکي ليدنې

**۷۸۳**

زیږیدلي ماشومان

**۱۱۲,۳۷۲**

راډیولوژي معاینات

**۶۷۶،۳۸۱**

لابراتواري کتنې

لومړني افغان د زړه جراحان
چې د زړه پرانیستې جراحي
یې ترسره کړه (۲۰۱۰)

د انستیزیولوژۍ، کارډیولوژۍ، پتالوژۍ
او رادیولوژۍ د تخصص روزنې لومړنی
پروګرام (۲۰۱۳)

د FMIC په کوربه‌توب د نړیوال
علمي کنفرانس او د کیفیت
کنوانسیون لومړی ناسته (۲۰۱۱)

د پرمختللي نوي‌زېږېدلو
د جدي پاملرنې خانګې
(NICU) جوړول (۲۰۱۶)

د ۱۲۸-سلایس CT سکینر
لومړنی مرکز (۲۰۱۳)

د یو ځای نښتیو غبرګونو
ماشومانو بریالی بېلتون (۲۰۱۵)

په افغانستان کې لومړنی روغتون چې
د نړیوال روغتون فدراسیون نړیواله جایزه
یې ترلاسه کړه (۲۰۲۱)

د SafeCare د ۵ کچې
تصدیق ترلاسه کول (۲۰۲۲)
— بیا تصدیق په ۲۰۲۴ کې

د بالون اېټریال
سیپټوستومي لومړی
ترسره کېدل (۲۰۲۱)

د الکتروفیزیولوژۍ او
کاتېټر ابلیشن لومړنی
ترسره کول (۲۰۲۳)

# لاسته راوړنې

په افغانستان کې رهبري کول

لومړی روغتون چې د زړه پرانیستې جراحي یې ترسره کړه (۲۰۰٦)

لومړني افغان د زړه جراحان چې د زړه تړلې جراحي یې ترسره کړه (۲۰۰۸)

د مرۍ د بندښت (oesophageal atresia) بریالۍ جراحي ترمیم (۲۰۰۶)

لومړنی روغتون چې د ISO 9001:2008 تصدیق یې ترلاسه کړ (۲۰۰۹)

د مورزادي حجاب حاجز هرنیا لپاره د لږ ضرر لرونکي توراسکوپیک جراحۍ لومړنۍ ترسره کول (۲۰۱۸)

د زړه او رګونو د جراحۍ د تخصص روزنې پیل (۲۰۱۹)

د زړه د ناروغۍ (Patent Ductus Arteriosus) جراحي درملنه داسې ماشوم چې وزن یې له ۱ کیلو ګرام څخه کم و (۲۰۱۷)

د ټولې ورن بند (Hip Joint) بدلون لومړنۍ جراحي (۲۰۱۹)

د ورون بند بشپړ بدلون جراحي (۲۰۲۰)

د لاس د اعصابو د انتقال جراحي چې د زیانمنو اعصابو فعالیت بېرته راګرځوي (۲۰۲۰)



# د اجرائیه مشر پیغام

**د لوړ کیفیت وړاندې کول او د اغېز پراخول**

۲۰۲۴ کال د FMIC لپاره د پرله پسې هڅو، پراخ پرمختګ او ژور بشري اغېز کال و. د لوړ کیفیت روغتیایي چوپړتیاوو د وړاندې کولو، عدالت، مسلکیتوب، غوره توب او انساني خواخوږۍ پر بنسټ زمونږ د مأموریت له مخې، زموږ ټیمونو د چوپړتیاوو د پراختیا، طبي نوښت او ټولنیز مشارکت په برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې ثبت کړې.

په روان کال کې، FMIC له ۲۲۲ زره څخه ډېرو ناروغانو ته کلینیکي چوپړتیاوې وړاندې کړلې، نږدې ۵،۸۰۰ جراحۍ یې ترسره کړې، له ۶۷۶ زره څخه ډیرې لابراتواري معاینات یې بشپړ کړل، او ۷۸۳ ماشومان په خوندي ډول نړۍ ته راغلل. هره شمېره د یوه ژوند، یوې کورنۍ او یوې هیلې استازیتوب کوي چې د مهربانۍ او تخصص له لارې لمس شوې ده. د ناروغانو د هوساینې پروګرام له لارې، FMIC په ۲۰۲۴ کال کې ۴.۹ میلیونه امریکایي ډالر ووېشل، چې له امله یې ۶۱،۶۰۰ څخه زیاتو ناروغانو – چې ډېری یې بېوزلي او له اسانتیاوو بې برخې وګړي وو، د ژوند ژغورونکې درملنې فرصت ترلاسه کړ.

موږ د چوپړتیاوو ساحه نوره هم پراخه کړه، چې پکې د سږو ناروغیو (Pulmonology) او عصبي جراحۍ (Neurosurgery) څانګو پرانیستل شامل دي. سربېره پر دې، ۲۰ نوې تشخیصي ازموینې معرفي شوې، د لمریز بویلر سیستم او د فاضله اوبو د تصفیې فابریکې پرانیسته وشوه، چې دا ټول زموږ د پایدارې پراختیا ژمنتیا څرګندوي. د نویو رادیولوژۍ او لابراتواري ظرفیتونو رامنځته کېدل د تشخیص دقت او د ناروغانو د درملنې کیفیت نور هم پیاوړی کړ.

د زده کړې او بشري ظرفیت د پراختیا په برخه کې هم مهم پرمختګونه وشول. تر اوسه ۸۱ کسان د تخصصي روزنې له پروګرامونو فارغ شوي او دا مهال ۵۹ متخصصین په بېلابېلو څانګو کې تر روزنې لاندې دي. د ټیلی میډیسن او انلاین زده کړو له لارې مو روغتیایي چوپړتیاوې او مسلکي روزنه د افغانستان لرې پرتو سیمو ته ورسوله.

د هرې احصایې تر شا یوه انساني کیسه پرته ده، لکه د ثریا کیسه، چې زمونږ د ICU ټیم د هڅو له برکته یې د تنفسي ناکامۍ پر وړاندې بری وموند؛ او د شفیقې کیسه، چې له یوې پېچلې زړه جراحۍ وروسته په موسکا له روغتونه ووتله. دا کیسې زموږ هدف تازه کوي او زموږ ژمنتیا نوره هم پیاوړې کوي.

زه د FMIC له ټولو کارکوونکو، شریکانو او ملاتړو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې دا بریاوې یې ممکنې کړې دي. ستاسو د دوامدار باور او ملاتړ په مټ به مونږ د افغانستان د روغتیایي نظام د پیاوړتیا لپاره خپلې هڅې ته دوام ورکړو—یو ناروغ، یو نوښت، او یو پرمختګ په یو وخت کې.

**عزیز احمد جان**

دFMIC د اجرائیه مشر پیغام




# د بورډ د مشر پیغام

**د هیلې او روغتیا څراغ**

د جدي ننګونو او د ملي او نړیوال روغتیايي وضعیت د لا پېچلي کېدو په شرایطو کې، د میندو او ماشومانو لپاره د فرانسوي طبي انستیټیوټ (FMIC) د زغم، غوره توب او نوښت یو پیاوړی سمبول پاتې شوی دی. زمونږ روښانه لید دا دی چې یو مخکښ او دوامدار غیرانتفاعي روغتون واوسو، چې نه یوازې د افغانستان لپاره بلکې د نورو مخ پر ودې هېوادونو لپاره هم د بېلګې په توګه وپېژندل شو. دا لید زمونږ د هرې پرېکړې او هرې همکارۍ بنسټ جوړوي.

د رئیس په توګه، زه ویاړ لرم چې د FMIC دا سفر له نږدې ووینم؛ یو سفر چې یوازې د درملنې تر وړاندې کولو محدود نه دی، بلکې د هیلو، باور او بشري کرامت استازیتوب هم کوي. مونږ ژمن یو چې د عامه او خصوصي مشارکتونو د پیاوړتیا، د ملي کادرونو د روزنې، او د ټکنالوژۍ د اغېزمنې ګټې اخیستنې له لارې د روغتیايي چوپړتیاوو د لاسرسي او کیفیت تشې راکمې کړو.

زموږ دوامداره همکاري د افغانستان او فرانسې له حکومتونو، لا شېن دُ لِسپوار (La Chaîne de l’Espoir)، او د آغا خان د پراختیايي شبکې سره، د FMIC د مأموریت اصلي ستن جوړوي. په داسې کال کې چې د روغتیا نړیوال ملاتړ کم شوی و، د چوپړتیا، عدالت او نوښت په برخه کې د FMIC ژمنتیا تر بل هر وخت زیاته مهمه وه. مونږ به د نړیوالو همکاریو پراختیا ته دوام ورکړو، د پایدارو روغتیايي پانګونو ملاتړ به وکړو، او د باوري مشرتابه له لارې به خپل اغېز نور هم وغځوو.

زه له خپلو شریکانو، تمویل کوونکو، او د FMIC له ستړي کورنۍ څخه د زړه له کومې منښه کوم چې تل زمونږ تر څنګ ولاړ دي. که څه هم راتلونکی ښایي له نامعلومو حالاتو ډک وي، خو زمونږ د ګډې ژمنتیا، همکارۍ او باور له برکته به مونږ د هغو کسانو لپاره چې تر ټولو ډېرې اړتیاوې لري، د کیفیت لرونکې، ارزانه او له شفقت ډکې روغتیايي پاملرنې وړاندې کولو ته دوام ورکړو.

**ډاکټر نجم‌الدین نجم**

د FMIC د مدیره پلاوي رئیس


SHIMADZU
SHIMADZU
FMIC

# مهم ټکي

## نوې خدمتونه

د سږو ناروغیو (Pulmonology) خدمتونه پیل شول، چې د سږو اړوندو ناروغیو لپاره یې د پرمختللې تشخیص او درملنې له لارې د تنفسي پاملرنې کچه لوړه کړې. سربېره پر دې، روغتون د عصبي جراحۍ (Neurosurgery) خدمتونه هم پیل کړل، څو د مغزو او ملا د تیر (ستون فقرات) پېچلو ناروغیو لپاره تخصصي جراحي پاملرنه وړاندې کړي.

اصلي لابراتوار د پرازیتولوژۍ ځانګړې څانګه زیاته کړې، چې ورسره یې د تشخیص وړتیا لا پیاوړې شوه. همدارنګه، د لابراتوار څانګې ۲۰ نوې تشخیصي ټېسټونه معرفي کړل، چې پکې Renin، Total IgE (IGE)، Aldosterone، hsCRP، Cortisol، ANA، Anti-thyroid (peroxidase (Anti-TPO او ډېر نور شامل دي.

د راډیولوژۍ څانګې په ۲۰۲۴ کال کې نوې پروسیجرونه پیل کړل، چې پکې د Drainage Catheter ځای پر ځای کول، د الټراساونډ په مرسته د نس دننه پروسیجرونه، او د CT په مرسته بایوپسي شامل دي.

یو ۱۰۰۰ میلی امپیره چت ته نصبېدونکی X-ray سیستم هم نصب شو. دا سیستم د مېز شپږ اړخیز حرکت، اتومات stitching، او د اتومات exposure control ځانګړتیاوې لري، چې د انځور اخیستنې دقت او د عملیاتو موثریت زیاتوي.

## نوې اسانتیاوې

د لویانو د خارج بستر (Adult OPD) څانګه په پراخه کچه وغځول شوه. په دې پراختیا کې نوې د ثبت ساحه له درې کاونټرونو سره، او د انتظار پراخه خونه شامله ده چې له ۱۰۰ څخه ډېرو ناروغانو د ناستې وړتیا لري. سربېره پر دې، ۵۰ نوې خونې ورزیاتې شوې، چې پکې تخصصي کلینیکونه (جراحي، انتاني ناروغۍ، رواني روغتیا، عصبي جراحي، غوږ، پوزې او ستوني، یورولوژي او اندوسکوپي)، د پروسیجر او ریکوري خونې، خدماتي برخې، د کارکوونکو اسانتیاوې، او د عملیاتو خونه شامله ده. دا پرمختګ د FMIC د خارج بستر چوپړتیاوو په پیاوړتیا کې یو ستر ګام بلل کېږي.

همدارنګه، د ۹۰ متره مربع لمونځ ځای جوړ شو، چې په یو وخت کې د نږدې ۱۰۰ کسانو د عبادت ظرفیت لري.

## د پایښت نوښتونه

د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۱۳مه، FMIC د ۱۸ زره لېټره لمریز بویلر سیستم پرانیسته وکړه. دا سیستم د روغتون د ګرمو اوبو ۵۰ سلنه اړتیا پوره کوي او هر کال د شاوخوا ۲۰۰ ټنه کاربن ډای اکسایډ د اخراج مخه نیسي، چې د ۸۰۰ زره کیلومترو موټر چلولو کاربن ډای اکساید له اخراج سره برابر دی.

سربېره پر دې، د ۱۲۰ مکعب متره فاضله اوبو د تصفیې فابریکه په بریالیتوب سره نصب شوه، چې له لارې یې هره ورځ ۱۲۰ زره لېټره اوبه د باغدارۍ او تشنابونو لپاره بیا کارول کېږي.



## هغه زړه چې رغېدلی:
## د شفيقې موسکا خنګه بېرته راستانه شوه

شپږ کلنه شفيقه د هلمند ولايت څخه د زړه له يوې جدي مورزادی ناروغۍ (Tetralogy of Fallot) کړېدله، چې د هغې د کيڼ لاس او پښې فلج کېدو لامل شوې وه. د لوړ جراحي خطر له امله ګڼو مرکزونو د هغې درملنه رد کړې وه. په FMIC کې، ډاکټر نورامين او د هغه ټيم پېچلې جراحي ترسره کړه. د ګڼو ستونزو سربېره، عمليات بريالي شول او شفيقه د موسکا سره له روغتونه ووتله، د امید، زغم او مسلکيتوب ژوندی سمبول دی. دا کيسه الهام‌بخښونکې ده او د مورزادي د زړه ناروغيو لرونکو ماشومانو د ژغورنې لپاره د نوي ژمنې څرګندونه کوي.په ۲۰۲۴ کال کې، FMIC ۴۰۹ د ماشومانو د زړه جراحۍ او ۴۳ د لويانو د زړه جراحۍ ترسره کړې. سربېره پر دې، ۱،۳۶۸ ماشومان او لويان د زړه اړوند نورو طبي پروسيجرونه لکه انژيوګرافي، انژيوپلاستي او پيس مېکر ترلاسه کړل.

## له شينوالي تر غوړېدنې پورې: د يوه نوي زېږېدلي ماشوم د زړه درزا بېرته راژوندۍ شوه

ابوالفضل، يو نوی زېږېدلی ماشوم، د زړه له يوې نادرې مورزادی ناروغۍ او سخت اکسيجن کمښت سره مخ و. د FMIC متخصصينو ډاکټر وليد صافي او ډاکټر صابر صافي په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د PDA Stenting تاريخي جراحي ترسره کړه. دا بريالۍ پروسه د ماشوم اکسيجن کچه لوړه کړه، رنګ يې عادي شو او تنفس يې ثابت شو. دا لاسته راوړنه نه يوازې د ابوالفضل ژوند وژغوره، بلکې د ماشومانو د زړه درملنې لپاره يې نوې هيله رامنځته کړه.

# زموږ ناروغان

د افغانستان د ټولو ولایتونو ناروغان، ډیری د پیچلو طبي شرایطو او د خراب اقتصادي شالید حالت سره، په FMIC کې د درملنې په لټه کې دي. FMIC د دوی لپاره د لوړ کیفیت روغتیايي پاملرنې د ترلاسه کولو لپاره وروستۍ هیله ده. په ۲۰۲۳ کې، موږ د ډېرو ناروغانو درملنه وکړه چې تر دې وړاندې یې د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو په نورو روغتونونو کې د روغتیايي درملنې (پاملرنې) غوښتنه کړې وه، مګر په پایله کې یې غوره درملنه او هوساینه په FMIC کې ترلاسه کړه. دا د یو څو ناروغانو کیسې دي:



## ماهر لاسونه، ژغورل شوي ژوندونه د افغانستان په لیرې پرتو سیمو کې د میندو او ماشومانو لپاره د فرانسي طبي انستیتیوټ

یو ۶۵ کلن بزګر د بغلان ولایت څخه، چې د معدې په پای کې له سرطان سره تشخیص شوی و، د FMIC د تجربه لرونکي جراحي ټیم له خوا په بریالیتوب سره عملیات شو. دا پیچلې جراحي، چې د معدې یوی برخی لرې کول او د Roux-en-Y بیا رغونه پکې شامله وه، د چټکې رغېدنې لامل شوه، او ناروغ یوازې پنځه ورځې وروسته خپل کور ته ستون شو. نن هغه بېرته کرنې ته راستون شوی او روغ ژوند کوي؛ دا بریا د FMIC د پر وخت مداخلې او تخصصي پاملرنې څرګندونه کوي.

## د ژوند لپاره بل چانس: د صنوبر د هیلې او رغېدو کیسه

سنوبَر، یوه ۳۵ کلنه ښځه د کابل د کارته سخي سیمې څخه، له کلونو راهیسې د نه تشخیص شوي زړه ناروغۍ له ستونزې سره مخ وه. په FMIC کې هغې ته د زړه د پردې سوري (Atrial Septal Defect) تشخیص وشو. د ناروغانو د هوساینې پروګرام له لوري د درملنې د لګښت ۹۰ سلنه ورکړل شو، او نوموړې په بریالۍ توګه تر جراحۍ وروسته بشپړه روغتیا ترلاسه کړه. د هغې کورنۍ له زړه له کومې مننديه ده، او دا کیسه د مالي ملاتړ او تخصصي درملنې ژور اغېز ښيي.

## له نه اټکل کېدونکي حالت څخه تر ژوندي پاتې کېدو پورې:د ثریا بریا پر بوټولیزم – د میندو او ماشومانو لپاره د فرانسي طبي انستیتیوټ کې

ثریا، ۲۸ کلنه ښځه د مزارشریف څخه، د خوړو له زهریت (Botulism) او شدید تنفسي ناکامۍ سره FMIC ته ولېږدول شوه، یوه نادره خو ډېره خطرناکه ناروغي. د ډاکټر نورالامین صافي او د ICU ټیم تر دوامداري څارنې لاندې، هغې ژوند ژغورونکې درملنه ترلاسه کړه. د څو اونیو له سختې مبارزې وروسته، هغې بشپړه روغتیا موندله او د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۱۹مه له روغتون رخصت شوه.

## د راتلونکې بېرته راګرځېدل: تخصصي پاملرنې څنګه د شهلا ژوند بېرته ورکړ

شهلاء، ۱۹ کلنه نجلۍ، له شپږو کلونو راهیسې د رحم د بندښت له یوې نادرې ستونزې (Obstructive Mullerian Anomaly) کړېدله، چې د شدید درد او جدي روغتیايي ستونزو لامل شوې وه. د ډاکټر فرزانه ولي جبران په مشرۍ، د FMIC ټیم لږ تهاجمي عملیات ترسره کړل او شاوخوا ۴،۵۰۰ سي سي وینه یې تخلیه کړه. د هغې درد پای ته ورسېد، روغتیا یې ښه شوه او د راتلونکې لپاره یې هیله بېرته راژوندۍ شوه.

# ۹,۰۱۲

**هغه بستر شوي ناروغان چې د میندو او ماشومانو لپاره د فرانسوي طبي انستیتیوټ د ناروغانو د ملاتړ پروګرام له لارې مرسته ترلاسه کړې**

۰–۱۰۰ د تداوۍ شویو کسانو شمېر

۱۰۱–۵۰۰ د تداوۍ شویو کسانو شمېر

۳,۸۳۶ د تداوۍ شویو کسانو شمېر




پرمخ وړي. دا مرکز چې ۴۰ بستره ظرفیت لري، هغو ټيټ عاید لرونکو ناروغانو ته د استوګنې اسانتیا برابروي چې له کابل څخه بهر سیمو څخه د درملنې لپاره روغتون ته مراجعه کوي. هغه ناروغان او د هغوی ملګري چې په WCH کې اوسيږي، له لاندې اسانتیاوو برخمن دي: وړیا استوګنځای، د سفر لګښتونو ملاتړ، په FMIC کې ۱۰۰ سلنه وړیا درملنه په ۲۰۲۴ کال کې، WCH د ۲.۶ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت مالي مرسته وړاندې کړه، چې له لارې یې ۱۱،۶۵۲ ناروغانو (۳،۱۳۳ بستر ناروغان او ۸،۵۱۹ خارج بستر ناروغان) ګټه واخیسته. د وړیا درملنې ترڅنګ، د ښځو او ماشومانو کور د روغتیايي پوهاوي منظمې غونډې هم تنظیموي، چې موضوعات یې لاندې برخې رانغاړي: د لاسونو پاکوالی، مناسبه تغذیه، د ښځینه ناروغیو روغتیا، مور او ماشوم پاملرنه. د WCH احتمالي مستحق ناروغان د بېلابېلو ادارو له لوري پېژندل کېږي، چې پکې د عامې روغتیا وزارت، د سره صلیب نړیواله کمیټه، افغان سره میاشت، بې پولې ډاکټران، Terre des Hommes، سیمه ییزروغتونونه، او ټولنیزې شوراګانې شاملې دي.

# د بې وزلو سره مرسته




FMIC ژمن دی چې ټیټ عاید لرونکي ناروغان هم وکولای شي د لوړ کیفیت روغتیایي چوپړتیاوو څخه ګټه پورته کړي. د همدې موخې لپاره، د ناروغانو د هوساینې پروګرام (Patient Welfare Programme) د هغو ناروغانو لپاره د درملنې او درملو لګښتونه بشپړ یا جزوي ورکوي چې د مالي ستونزو له امله د درملنې توان نه لري.

په ۲۰۲۴ کال کې، FMIC د ناروغانو د هوساینې په برخه کې ۴.۹ میلیونه امریکایي ډالر مرسته برابره کړه، چې له امله یې ۶۱،۶۰۹ ناروغانو، چې پکې ۹،۰۱۲ بستر ناروغان هم شامل دي، له بېلابېلو ولایتونو څخه د ژوند ژغورونکو روغتیایي چوپړتیاوو څخه ګټه واخیسته. دا شمېر د ۲۰۲۳ کال په پرتله د پام وړ ډېروالی ښیي، څکه په هغه کال کې ۵۷،۳۷۱ ناروغانو مرسته ترلاسه کړې وه.

لا شین دُ لِسپوار (La Chaîne de l'Espoir) د FMIC په چوکاټ کې د ښځو او ماشومانو کور (Women's and Children's House – WCH)

# انلاين روغتيايي چوپړتياوې




**BPH:** د باميانو ولايتي روغتون
**FPH:** د فيض آباد ولايتي روغتون

په ټول افغانستان کې ډېرى خلک د ډاکټرانو او نرسانو د کمښت، امنيتي ستونزو، او کمزوري بنسټيزو اسانتياوو له امله د لوړ کيفيت روغتيايي چوپړتياوو ته لاسرسی نه لري. د همدې ننګونو د حل لپاره، FMIC له ۲۰۰۷ کال راهيسې د ټيلي ميډيسن پروګرام له لارې ولايتي روغتونونو ته انلاين طبي مشورې او مسلکي روزنه وړاندې کوي. دا پروګرام د باميان ولايتي روغتون، فيض‌آباد ولايتي روغتون، کندهار روغتون، د بدخشان ولايت د بهارک ولسوالۍ روغتون، او همدارنګه د تاجکستان د خوروغ ولايت روغتون په ګډون له ګڼو روغتيايي مرکزونو سره همکاري لري.

آنلاين مشورې له لرې پرتو سيمو ناروغانو سره مرسته کوي، څکه چې هغوی د کابل يا له هېواده بهر روغتونونو ته د اوږدو سفرونو له امله د وخت او لګښت له مصرف څخه ساتي.

آنلاين روزنه د روغتيايي کارکوونکو لپاره د مسلکي ودې فرصتونه برابروي، چې ښايي بل ډول ورته لاسرسی ونه لري.

FMIC د آغا خان پوهنتون روغتون کراچۍ، د نېکر روغتون پاريس، لا شېن دُ لِسپوار، او نورو اروپايي روغتيايي بنسټونو له متخصصينو سره وصل دی. دغه متخصصين د آنلاين مشورو له لارې د ناروغانو معاينې کوي او د CT ،MRI سکن او ماموګرافۍ راپورونه ارزوي.

په ۲۰۲۴ کال کې، د FMIC د ټيلی‌ميډيسن پروګرام لاندې چوپړتياوې وړاندې کړې: ۳،۶۳۹ ژوندۍ ټيلي مشورې، ۱،۶۲۵ ټيلی راډيولوژي چوپړتياوې، ۳،۶۶۴ ټيلی پتالوژي چوپړتياوې، ۳۶ انلاين تعليمي ناستې (eLearning Sessions)، ۶ دوامداري طبي زده کړې (CME) کورسونه دغه پروګرامونو څخه ۲،۲۵۷ روغتيايي کارکوونکو ګټه واخيسته، چې له لاندې روغتيايي مرکزونو څخه وو: د بهارک ولسوالۍ روغتون ، د کشم ولسوالۍ روغتون ، د پنجاب ولسوالۍ روغتون ، د سروبي ولسوالۍ روغتون ، د کندهار ميرويس سيمه ييز روغتون ، د بغلان جديد سيمه ييز روغتون ، د بدخشان د بشور، اشکاشم او نُسای جامع روغتيايي مرکزونه ، د کهمرد ولسوالۍ روغتون.


SafeCare
CERTIFICATE
French Medical Institute for Mothers and Children (FMIC)
5/5
QUALITY LEVEL



د PGME پروګرام خپلو ریزیډنټانو او له روغتونه بهر علاقمند ډاکټرانو ته علمي سیمینارونه او ورکشاپونه هم وړاندې کوي، چې پکې د شواهدو پر بنسټ طب (Evidence-Based Medicine) هم شامل دی.

## روزنه

FMIC  د خپلو کارکوونکو د مهارتونو لوړولو ته ژمن دی. په ۲۰۲۴ کال کې، د روزنې او پراختیا څانګې د روغتون په بېلابېلو برخو کې ۱،۷۶۱ داخلي روزنیز پروګرامونه تنظیم کړل، چې پکې نرسنګ، طبي چوپړتیاوې، کیفیت او د ناروغ خوندیتوب، بشري سرچینې او نورې برخې شاملې وې.

سربېره پر دې ۸کارکوونکي د هېواد دننه روزنیزو پروګرامونو ته ولېږل شول، ۲۱کارکوونکي د ۱۲ پرمختللو روزنیزو پروګرامونو لپاره معرفي شول، ۱کارکوونکی په ایران کې نړیوال کنفرانس ته ولېږل شو، ۲۰تخصصي زده‌کوونکي د روزنیزو دورو لپاره د آغا خان پوهنتون روغتون (کراچۍ) ته واستول شول.

په ۲۰۲۴ کال کې،  FMIC د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه ۴،۴۴۵ روغتیایي کارکوونکو ته د کار پر مهال روزنه برابره کړه. ګډونوال د ولایتي روغتونونو، د عامې روغتیا وزارت، د روغتیا نړیوال سازمان (WHO)، او محلي پوهنتونونو څخه وو. دا ګډونوال د لنډ مهاله او اوږدمهاله روزنیزو پروګرامونو له لارې په طبي، نرسنګ، رادیولوژۍ او لابراتواري څانګو کې عملي تجربه ترلاسه کړه. دا پروګرام د فرانسې د پراختیایي اداري (AFD) له لوري تمویل کېږي.

د انلاین انګلیسي ژبې درېیم پړاو په ۲۰۲۳ کال کې پیل شو، چې ۸۰ کارکوونکي پکې شامل وو. په جون ۲۰۲۴ کې ۶۳ تنه فارغ شول. د بازارموندنې څانګې ۱۳ روغتیایي پوهاوي ناستې تنظیم کړې، چې ۱۵۰۳ ګډونوال یې درلودل.

د نرسنګ د زده کړې خدمتونو څانګې حضوري او انلاین روزنې ترسره کړې، چې ۲۲۶۲ ډاکټران او نرسان پکې برخه وال وو.

د روغتیایي مشرتابه او روزنې ډیپلوم پروګرام په ۲۰۱۹ کال کې پیل شو. تر دسمبر ۲۰۲۴ پورې ۱۳۵ تنه ترې فارغ شوي او دا مهال ۳۷ کارکوونکي پکې شامل دي.

## دوامداره طبي زده‌کړه

FMIC د دوامداره طبي زده‌کړې بنسټیز ارزښت ته ژمن دی. د دې هدف د ملاتړ لپاره، روغتون د روغتیایي متخصصینو لپاره د دوامدار طبي زده‌کړو (CME) یو لړ فرصتونه وړاندې کوي.په ۲۰۲۴ کال کې، ۱۷ CME ناستې ترسره شوې، چې پکې څېړنیز سمینار هم شامل و، او ۷۱۸ روغتیایي کارکوونکو پکې ګډون کړی و دغه ناستې په بېلابېلو موضوعاتو کې وې، لکه د ماشومانو جراحي، عمومي جراحي، عمومي داخله ، کارډیالوژي، او نسایي او ولادي.

# د ظرفیت لوړول



## د اکمال تخصص پروګرام

FMIC د بېلابېلو نوښتونو له لارې د خپل کاري ځواک د ظرفیت لوړولو ته دوام ورکوي، چې پکې اکمال تخصص پروګرام ، دوامداره طبي زده کړې، دننه روزنه، طبي ماموریتونه، کلني کنفرانسونه، او انلاین زده‌کړیز پروګرامونه شامل دي.

د اکمال تخصص پروګرام (PGME) چې په ۲۰۱۲ کال کې د Aga Khan University او د ا فغانستان د عامه روغتیا وزارت په همکارۍ جوړ شو، ډاکټران په نهو تخصصونو کې روزي: بې‌حسي (انستیزیولوژي)، ارتوپیډي، د ماشومانو داخله، د ماشومانو جراحي، پتالوژي، رادیولوژي، نسایي او ولادي، کاردیولوژي، او د زړه او رګونو جراحي. له دې څخه خلور پروګرامونه په افغانستان کې یوازیني دي. دا پروګرام نظري، عملي، او څېړنیزې زده‌کړې برابروي. د درې تر پنځو کلونو د روزنې په موده کې، ریزیډنټ ډاکټران د Aga Khan University Hospital او د کابل نورو روغتونونو ته ځي، څو خپلې کلینیکي دورې بشپړې کړي. همدارنګه، دوی د خپلې خوښې پر موضوع څېړنیزه پروژه ترسره کوي.

په ۲۰۲۴ کال د اپرېل په میاشت کې، درې ډاکترانو په دوو بېلابېلو تخصصونو (د ماشومانو داخله او کاردیولوژي) کې خپله روزنه بشپړه کړه. تر اوسه پورې، ۸۱ تنه له دې پروګرام څخه فارغ شوي دي. دا مهال ۵۹ ریزیډنټان په نهو برخو کې روزل کېږي، چې پکې ۱۵ ښځې هم شاملې دي.




ماشومانو د پاملرنې پروتوکولونه یې ښه کړل، او د بستر تر څنګ روزنې او دوامدارې زده کړې له لارې یې د نرسنګ کړنې لا پیاوړې کړې.

له تخنیکي مرستو سربېره، رضاکارانو د بېلابېلو کلتورونو ترمنځ د پوهې تبادله هم اسانه کړه او په اداره کې یې د همکارۍ او خدمت روحیه پیاوړې کړه.

د Aga Khan Health Board Canada د مشرتابه دفتر له خوا، د TKN دفتر په همکارۍ، همغږي او رهبري داسې برابره شوه چې د هر رضاکار ګډون هدفمند، اغېزناک، او د دوارو خواوو لپاره ګټور وي. دا هڅې د رضاکارۍ دوامدار ارزښت څرګندوي، چې د قوي روغتیایي سیستمونو په جوړولو او په Afghanistan کې د روغتیایي خدمتونو د غوره والي لپاره د FMIC ژمنتیا پیاوړې کوي.



## طبي مأموریتونه

هر کال، د La Chaîne de l'Espoir او AKU له خوا تنظیم شوي روغتیایي مسلکي کسان FMIC ته سفر کوي، څو روغتون سره د طبي خدمتونو په وړاندې کولو کې مرسته وکړي او خپل مهارتونه له کارکوونکو سره شریک کړي.

په ۲۰۲۴ کال کې، د نسایي او ولادي، انستیزیولوژي، قلبي جراحي، د ماشومانو داخله، نرسنګ، لابراتواري علومو او رادیولوژۍ ۲۲ متخصصینو FMIC ته سفر وکړ، او په ټولیز ډول یې ۷۶ ورځې خدمت تر سره کړ.

## د بشري سرچینو وضعیت

ټول کارکوونکي: ۱،۰۵۰ تنه. ۷۹۵ نارینه او ۲۵۵ ښځې. ۹۹ سلنه افغانان دي. ۵۳ سلنه تر ۳۵ کلونو کم عمر لري. ۳۲ سلنه له ۱۰ کلونو زیات خدمت لري ، ۲۹٪ د ۵ تر ۱۰ کلونو عمر لرونکو، ۱۷٪ د ۲ تر ۵ کلونو عمر لرونکو، او ۲۲٪ د ۲ کلونو نه کم عمر لرونکو په مینډو او ماشومانو لپاره د فرانسي طبي انستیتیوټ کې فعالیت کړی دی.په ۲۰۲۴ کال کې، ۵۰ کارکوونکي بهرنیو هیوادونو ته کډه شول. د کارکوونکو د بدلون کچه ۱۱.۰۷ سلنه وه (۲۰۲۳ کې ۶.۷۶ سلنه). د کارکوونکو د رضایت کچه ۸۲ سلنه ثبت شوه.

## د نړیوالي رضاکارۍ له لارې د روغتیایي خدمتاتو پیاوړتیا

په ۲۰۲۴ کال کې، FMIC د نړۍ له بېلابېلو برخو څخه د Time and Knowledge Nazrana (TKN) رضاکارانو له ونډو څخه د پام وړ ګټه پورته کړه. د TKN رضاکارانو مسلکي مهارتونو د روغتون د کلینیکي، تشخیصي، او نرسنګ خدمتونو په پیاوړتیا کې مهم رول ولوباوه. دغو نړیوالو روغتیایي مسلکي کسانو د FMIC د ټیمونو د ظرفیت لوړولو لپاره عملي لارښوونه، د مهارتونو روزنه، د کاري بهیر ښه‌والی، او ستراتیژیکي مشورې وړاندې کړې.

د دوی هڅو په پتالوژۍ او سایټولوژۍ کې د تشخیص دقت لوړ کړ، د

SafeCare
HEALTHCARE STANDARDS

# CERTIFICATE

## French Medical Institute for Mothers and Children (FMIC)

Afghanistan, Kabul

**5**/5

SAFECARE

**QUALITY LEVEL**

Scan for info about SafeCare and Certificate Validity

**PUBLICATION DATE:** 15/11/2024 **VALID UNTIL:** 15/11/2026 **CERTIFICATE NO:** 11034

Aafke de Graaff
Director Quality

Roelinde Bakker
Director SafeCare

A SafeCare certificate is an award given to healthcare providers if they meet certain SafeCare standards related to a specific level during their Quality Journey. SafeCare however bears no responsibility for treatment performed by the healthcare provider.

**BECAUSE QUALITY SAVES LIVES** | WWW.SAFE-CARE.ORG

# د کیفیت پر لور

## علمي کنفرانس او د کیفیت کنوانسیون

FMIC د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۱۴مه، پنجشنبه، خپل ۱۴م کلنی نړیوال علمي کنفرانس او د کیفیت کنوانسیون ترسره کړ. د دې غونډې اصلي موضوع وه: «په ګډه پرمختګ: لاسرسی، کیفیت، نوښت، او پایښت». دا کنفرانس چې په هایبرېډ وېبینار بڼه ترسره شو، له ۳۵۰ څخه ډېرو نړیوالو او ملي استازو په حضوري او انلاین ډول ګډون پکې کړی و، چې پکې څېړونکي، پوهان، ډاکټران، نرسان، او د روغتیا اړوند نور مسلکي کسان شامل وو. د حکومت وزارتونو، ډیپلوماتیکې ټولنې، نړیوالو پراختیایي ادارو، رسنیو، او مدني ټولنې درنو استازو هم په دې مراسمو کې ګډون کړی و. په کنفرانس کې ۱۳ شفاهي او پوسټر وړاندې کوونکو هم په انلاین ډول له Pakistan، Badakhshan، او Bamyan څخه ګډون کړی و.

## د مراجعینو د رضایت نظرپوښتنه

د کیفیت د تضمین او د مراجعینو د پاملرنې د پیاوړتیا په موخه، FMIC په منظم ډول له هغو ناروغانو څخه نظرپوښتنه کوي چې د روغتون له چوپړتیاوو یې ګټه اخیستې وي. په ۲۰۲۴ کال کې، له ۲۴۰۰ ناروغانو څخه د بستر، خارج بستر، درملتون او تشخیصي چوپړتیاوو په برخو کې نظریات راټول شول.د میندو او ماشومانو لپاره د فرانسوي طبي انستیتیوټ د ۱۴م کلنۍ نړیوالې علمي کنفرانس او د کیفیت کنوانسیون د پنجشنبې په ورځ، د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۱۴مه نېټه ترسره شو. د دې پېښې محور «په ګډه پرمختګ: لاسرسی، کیفیت، نوښت، او پایښت» و. دغه کنفرانس په هایبرېډ ډول (حضوري او آنلاین) جوړ شوی او تر ۳۵۰ زیات ملي او نړیوال استازي یې په حضوري او آنلاین ډول ګډون وکړ، چې پکې څېړونکي، ساینسپوهان، ډاکټران، نرسان، او نور روغتیايي متخصصان شامل ول. همدارنګه، دولتي چارواکي، ډیپلوماتیکه ټولنه، او نړیوالې ادارې هم په دې غونډه کې ګډون وکړ. د پراختیایي سازمانونو، رسنیو او مدني ټولنې استازي هم په دې مراسمو کې حاضر وو. په کنفرانس کې ۱۳ ویناوال او پوسټر وړاندې کوونکي له پاکستان، بدخشان، او بامیان څخه آنلاین ګډون وکړ.

د سروې پایلو وښوده چې: که ۸۹ سلنه ناروغان خوښ وو چې "په بشپړه توګه موافق" یا "موافق" یې ښودلې ده. ۱۱ سلنه ناروغان ناخوښ وو. دغه نظریات FMIC ته مهم معلومات برابروي څو د چوپړتیاوو کیفیت لا ښه کړي او د مراجعینو رضایت لوړ کړي. د روغتون موخه دا ده چې د ناروغانو د رضایت کچه لږ تر لږه ۹۰ سلنې ته ورسوي.

FMIC له شاوخوا ټولنو سره پیاوړې اړیکې رامنځته کړې دي. سره له ننګونو، روغتون په ۲۰۲۴ کال کې د ټولنې د روغتیا د پوهاوي لپاره ۱۳ غونډې ترسره کړې، چې ۱۵۰۳ ګډونوال یې درلودل.

د دغو غونډو موضوعات د ټولنې له استازو سره په مشوره ټاکل شوي وو، چې پکې شامل دي: د امیندوارۍ لوړ فشار، د شکر ناروغي، د امیندوارۍ پاملرنه ،رواني روغتیا، د ماشومانو خوارځواکي، د ماشومانوسره ناوړه چلند، د شیدو ورکولو ارزښت، د نوي زېږېدلي ماشوم پاملرنه، د سترګو او غاښونو روغتیا، هیپاټایټس، د اوبو له لارې انتقالېدونکې ناروغۍ.

## د ټولنې د ښکېلتیا پروګرام

FMIC له شاوخوا ټولنو سره پیاوړې اړیکې جوړې کړې دي. په ۲۰۲۴ کال کې، د ننګونو سربېره، روغتون د بېلابېلو ګاونډیو سیمو ۱,۵۰۳ د ټولنې غړو لپاره ۱۳ د روغتیایي پوهاوي غونډې ترسره کړې. موضوعات د ټولنې له استازو سره په مشوره ټاکل شوي وو او په کې د امیندوارۍ لوړ فشار، شکر ناروغي، د امیندوارۍ مخکې پاملرنه، رواني روغتیا، خوارځواکي، د ماشومانو ځورونه، د مور شیدې ورکول، د نوي زېږېدلي ماشوم پاملرنه، د سترګو او غاښونو روغتیا، هیپاټایټس، او د اوبو له لارې لېږدېدونکې ناروغۍ شاملې وې.

# زموږ شریکان او ملاتړي

FMIC د حکومتونو او مدني ټولنې ترمنځ د بریالۍ همکارۍ ژوندۍ بېلګه ده، یوه همکاري چې ښيي څنګه ګډه ژمنتیا، اوږدمهاله ملاتړ، او انساني ارزښتونه کولی شي د جګړو او محدودو سرچینو تر اغېز لاندې هېوادونو کې هم د لوړ کیفیت روغتیايي سیستم رامنځته کړي.

FMIC د یوې بې سارې همکارۍ استازیتوب کوي چې ښيي څنګه حکومتونه او د مدني ټولنې بنسټونه کولی شي په ګډه د مخ پر ودې هېوادونو لپاره د لوړ کیفیت روغتیايي خدمتونه وړاندې کړي. د FMIC څلور بنسټګر شریکان د افغانستان حکومت، د فرانسې حکومت، د آغا خان پوهنتون (د آغا خان پراختیايي شبکې یوه اداره)، او لا شېن دُ لِسپوار (La Chaîne de l'Espoir)—تر اوسه هم د دې روغتون د پراختیا، ملاتړ او ستراتیژیک رهبرۍ مهم رول لوبوي. سربېره پر دې، د دوه‌اړخیزو تمویل کوونکو دوامدار ملاتړ د FMIC د پروګرامونو د پایښت او د افغانستان خلکو ته د معیاري روغتیايي خدمتونو د دوام لپاره حیاتي ارزښت لري.

د ناروغانو د هوساینې پروګرام لپاره مالي ملاتړ د فرانسې حکومت، لا شېن دُ لِسپوار ، جلالتمآب آغا خان ، انفرادي مرستندویان لخوا برابریز]. د ظرفیت لوړونې او د تخصصي طبي زده کړو پروګرام (PGME) لپاره ملاتړ د کاناډا حکومت او لا شېن دُ لِسپوار لخوا کیږي

د ۲۰۲۴ کال تر دسمبر پورې، FMIC له خپلو بنسټګرو شریکانو او نورو تمویل کوونکو څخه ټولټال ( ۸.۴ ملیارده افغانۍ نږدې ۱۳۳ میلیونه امریکایي ډالر( ترلاسه کړي دي، دا مالي ملاتړ د روغتون د ماموریت د پیاوړتیا، د حیاتي روغتیايي پروګرامونو د پلي کولو، او د افغانستان خلکو ته د اړینو روغتیايي چوپړتیاوو د دوام سبب ګرځېدلی دی.


Adult Outpatient Clinic
کلینیک بزرگسالان


FMIC
Managed by: The AgaKhan University
Emergency
AIM

# د شمېرو له مخې

| | ۲۰۰۶-۲۰۲۱ | ۲۰۲۲ | ۲۰۲۳ | ۲۰۲۴ | ټول |
|---|---|---|---|---|---|
| چوپړتیاوې بستر ناروغان | ۹۱,۳۱۷ | ۱۲,۷۳۵ | ۱۳,۷۵۸ | ۱۳,۴۲۱ | ۱۳۱,۲۳۱ |
| کلینیکي مراجعین | ۱,۶۳۱,۸۱۲ | ۱۷۶,۱۰۶ | ۲۲۲,۲۰۰ | ۲۲۲,۸۶۵ | ۲,۲۵۲,۹۸۳ |
| نوي زېږېدلي ماشومان | ۵,۲۲۰ | ۷۷۶ | ۸۳۰ | ۷۸۳ | ۷,۶۰۹ |
| رادیولوژۍ پروسیجرونه | ۸۹۵,۵۹۸ | ۹۰,۱۰۲ | ۱۱۰,۵۹۳ | ۱۱۲,۳۷۲ | ۱,۲۰۸,۶۶۵ |
| لابراتواري ازموینې | ۵,۰۳۴,۳۲۴ | ۵۲۸,۲۸۰ | ۶۵۸,۰۴۳ | ۶۷۶,۳۸۱ | ۶,۸۹۷,۰۲۸ |
| ټولې جراحۍ | ۴۲,۶۲۸ | ۵,۴۲۶ | ۶,۲۳۰ | ۵,۷۹۰ | ۶۰,۰۷۴ |



د فرانسي طبي انستيتيوټ د میندو او
ماشومانو لپاره
د پوهنتون سرک، علی‌آباد،
کابل، افغانستان

www.fmic.org.af

THE AGA KHAN UNIVERSITY

La chaîne
de l'espoir

MINISTÈRE
DE L'EUROPE
ET DES AFFAIRES
ÉTRANGÈRES
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*